

## د ښاغلي مفتاح الدين ساپي ادبي او فرهنګي اثارو ته يوه کتنه

دپښتو ژبه دنورو ژبوپه څنګ کې يوه اصالت لرونکې، تاريخي، قوي، پياوړې او دعلم دپراخو سر چينو لرونکې اودسترو اديبانو اوشاعرانوژبه ده، چې يو شمير بهرنيوليکوالانو اوادب پوهانو په خپلوآثاروکې په دې هکله ډيرې خيړنې او پلټنې کړې دي.

زموږ په ګران هيواد کې دپښتوادب په آسمان کې ليکوالان ،اديبان اوشاعران هغه ځليدونکي ستوري دي چې دهغوی په ځلا او ښکلا اودهغوی دآثاروپه وړانګوبه هر وخت زموږ د پښتو ادب روښانه ساتل کيږي.

په يوه ټولنه کې شعر او شاعري ځانګړې مقام لري.دشاعرانواحساس او عاطفه دټولنې انځور بلل کيږي اوشاعران د يوې ټولنې د عيني او واقعي مسايلو او پيښنو څيړنه کوي اوپه خپلو شعرونوکې خپل احساس،عاطفه اودرد بيانوي.دوی په خپل کلام کې دخپل زړه احساس اودردونه انعکاسوي او کوشش کوي چې په بل زړه اغيز ولري .دا جوته ده چې شعر ويل هم آسان کار نه دی ځانته يو ځانګړې استعداد غواړي. شاعري يو سپيځلې، نرم، نازک اولطيف فن دی او په دې لاره تلل ډير مشکل کار دی، دا يوه نادره تحفه ده چې دخدای پاک له طرفه چاته ډالي کيږي.

ښاغلي مفتاح الدين ساپي د خدای بخښلي اباخان زوی دی، چې د وږی میاشت په (۱۳۱۵) کال کې د کنړ ولایت په مزار دره کې زیږیدلې دی.
ده خپلې زده کړې په کونړ، کابل او امریکې کې پای ته رسولې دي ، وروسته له خپلو لوړو زده کړو دی په مختلفو دولتي دندې کې بوخت و.

دی له هغو ستورو څخه دی چې دده فرهنګي ځیره د پښتو ادب په ډګر کې روښانه او ځلیدونکې ده.
دی یو پیاوړې لیکوال، خوږژبې شاعر، ممتاز ډرامه لیکونکې او وتلې ژباړونکې دی.
دی په خپلو شعرونوکې دټولنې دځوریدلو خلکو ویاړونه، ستوونځی، کړاوونه، ناخوالې، خوږې او ترخې او د شهیدانو آرمانونه او دغربت، مهاجرت او جلا وطنې ستوونځې او دوطن او هیواد او الو سره خپله ژوره مینه ، محبت او احساس په ډیر وښکلو سمبولونو ،تصویرونو او انځورونو کې ترسیموي او انعکاس ورکوي.
ښاغلي اکادیمسن سلیمان لایق چې یو نامتو، وتلې شاعر اولیکوال دی اود او سنیو شاعرانو اولیکوالانو په منځ کې یو ځانګړې ځای او مقام لري په خپله یوه لیکنه کې د ساپي صاحب دیوې ټولګې په هکله چې (نیمګړي انځورونه) نومیږي داسې وايي.
د (نیمګړي انځورونه) زیاتره شعرونه له سولې، سوکالۍ، له هیواد او نړۍ سره د مینې په څرګندولو ډک شوي او له نوع پالنې ، انصاف او د خلکو له یوالي سره لیونۍ مینه او لیوالتیا ښیي. د دې په خلاف، ناسړیتوب، ښکیلاک، زبیښناک ،جګړه ،توپیرپالنه او پردي غلامي محکوموي.

د شعر ژبه یې ساده او سپیځلې ده، خو د شمال ختیز و پښتنو تر منځ د مروجو الفاظو او ترکیبونو د کارولو په وجه یې لوستونکو ته د تامل ضرورت رامنځ ته کړی دی.

د وزن له پلوه ساپي داسې تګ توګه خپله کړې ده چې هر راځ وزن ته لاره ورکوي، خو دهیڅ یوه التزام هم نه کوي. ده د دې دفتر په شعرونوکې عروضي، نیم عروضي، فلکلوري اوزان او بې وزنه قافیه لرونکي او حتی د منثور شعربې وزنه فورم هم کارولی دی.ده ددی آسانه او میسرې بڼې دخپلولو په وجه دقافیې او اوزانو د انتخاب ستونزمنه لاره چې د هنري فکر د الوتنې فضاتر فشار لاندې راولي، ځان ته هواره کړې ده. زما په فکر، دخیالونود تصویرولو اوحسي کولود اسانولولپاره له بڼې سره د ساپي په طریقه عمل کول یو ابتکار دی، د وزن د غوراوي په برخه کې دغه تګ توګه له شاعر سره د نویو خیالونوپه پیدا کولو او یا للوکې مرسته کوي. که څه هم ساپي صاحب په شعر کې د تجربې دلږوالي په سبب د زړور پر مختګ زړه نه کوي او نګوښي، خو له بل پلوه دشعر د عنعنو نوي کول پیچلی تمرین دی او پوره ادبي صلاحیت غواړي. موږ په خپله په تیرو دیرشوکلونو کې ولیدل چې څنګه د نوي وزن د مخکښانو ځینې وګړي بیرته پر شا وګرځیدل او د غزل د قلندرانولمن یې ونیوله.

ساپي صاحب دیوشمیرغربي شاعرانو اولیکوالانوآثار په پښتو ژبه ژباړلي اوخپاره کړي دي.د ده ادبي اوفرهنګي شخصیت نه یوازی په هیواد کې دننه بلکې په بهر کې هم پیژندل شوې دی.دی په انګریزي ژبه هم شعرونه او لیکنې لري.
پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار چې دپښتو ادب په ډګر کې یوخوږ ژبې، نامتو او وتلې شاعر او لیکوال دی په خپله یوه لیکنه کې د ساپي صاحب په هکله داسې وايي:

(او زموږ نوښتګر ساپي له هغو کم پیښو پښتنو او بیا د خپل پوخ منګي پښت زده کړه والو اولیکوالوڅخه دی، بې له دې چې دنظم، پښیلی(قافیې) اوتول وتال پر دودیزه لیاره یو پل هومره واخلي اوخپل کړاواوزمیښت په کې پوخ کړي، وار له واره یې له شعر او بیا ژمن شعره راپیلوي او تر هغې چې اروپایي وزمه بې تول وتاله (سپین) شعر ازمایي، پوره برې تر لاسه کوي اودیوه شاعر په توګه راڅرګندیږي، خو کله چې د تولیز یا موزون (ازاد ) شعر اویا هم ګرد سره دودیز یا کلاسیک پښیلیز(قافیه واله) او

بیا غزل خواته راستنیږي، له ټول ژب- ښکلاییز او ژب – اندیز پخوالي او سمبولتیا سره سره د (دودیزو ) عروض پوهانو پام ځانته را اړوي او یو مخیزه یې له شعر وشاعرۍ څخه نټه او نمښته کوي .

دا چې ساپي ولې وار له واره له ناپېیلي شعر راپیل کړی، دک توسن یې داوو چې په امریکاکې یې د زده کړې له مهاله په نړیواله کچه د نومیالو ژمنو اوهومانیستو شاعرانوخورا په زړه پورې شعري بیلګې په ناپېیلي بڼه پښتو ته رااړولي او ورو ورو یې دی هم شعر ویلو ته راهڅاوه او ښکلاییز څوب(ذوق) او وړتیا یې ورسره غځونې کولې او په پای کې یې د ورته ازادویا سپینو بیلګو پنځونې ته متې را ونغښتې او دا توسن چې ولې وروسته وروسته لنډه تنګ فورم ته راواوښت او د خوشحال خبره دا ارت جهان یې په لوی لاس پر ځان تنګ وتورش کړ، همداوو چې څوک ونه وایې(ساپي) شاعر نه دی او هسې (ادبي ټوټې ) کاږي) .

په رښتیا هم چې ساپي صاحب له هغوشاعرانو او لیکوالانو څخه دی چې د ده خوږ کلام ، شعروشاعري دپښتو دادبیاتو په تاریخ کې ځلانده،روښانه او نه ورکیدونکی دی، او د ده ادبي او فرهنګي شخصیت دقدر او ستاینې وړ دی. دی یودروند ،مهربان ، اومتواضع انسان دی. دی دښه او نیکو اوصافواو نرم مزاج او لوړ اخلاق څښتن دی.

دساپي صاحب چاپ شوي اثار دا دي:

۱- نړیوالې سندرې (ژباړه ).
۲- سپیدې- نړیوال شعرونه ( ژباړه ).
۳- مات وزر- نړیوال لنډ داستانونه ( ژباړه ).
۴- ادبي او هنري څیړنې (لیکنه او څیړنه ).

۵- د هیواد په مطبوعاتو کې ګڼ شمیر چاپ شوې مقالې.
۶- نیمګړي انځورونه – شعري ټولګه (لیکنه)

په ډیر درنښت: انجنیر عبدالقادر مسعود

دښاغلي ساپي صاحب د شعري ټولګې څخه مو یو څو شعرونه غوره کړي دي چې د تاسو پام ورته راګرځوم.

## سپوږمۍ

که سپینې سپینې، سپوږمیه سپینې !
پوړژلې شپې مې، له بره وینې
پردۍ هیواد دی، پردۍ ده مینه
نه تروښي زړه مې پردۍ سترګلینې
په خوله ګونګۍ شې، ولې نه خاندې
په څه پردۍ شوې، زما له مینې
دخدای لپاره، حال د یار وایه،
په غم یې ګوتم دځیګر وینې !

هالینډ- جنوري ۱۹۹۸

دوییونو (لغاتو) ژباړه
***************
پوړژلی: مسافر، جلای وطن
تروښل: ربودن، اغوا کردن، ګمراه کردن
سترګلین: نګاه

## برخه

د زماني له مړه وجدانه

بې سروبوله ګرماني وړم
تل د شکنو له تیروغشو
د ټپونو ښناني وړم
د بیلتون له سوځند اوره
تورې ایرې د یاراني وړم
له منګنو سرو سیلیو
مړاوی ګل له ګلخانې وړم
له لوټ شوي شرابتونه
هسې تشتورې پیماني وړم
د خپلو او ښکو له امیله
نن په ښوکې څو داني وړم
د وسمهال له تاړاکونو
غملړلي افساني وړم
له مینه وړې سوزوسازه
ویرژړلي تراني وړم !

هالینډ - اپریل ۱۹۹۸

دوییونو (لغاتو ) ژباړه
***************
بې سروبوله: بې بنیاد ، بې اساس، بې سروپا
ګرمانه: ملامتی، جرمانه، سزا
تاړاک: شبخون، مصیبت

## د شړونتیا رنځ

زما د شونډو پر پردیسه للمه
ستا د خولګیو باران نه اوریږي
زما د سترګو پر تورتمو شپولو

ستا د سپوږمۍ پلوشې نه ځلیږي
زما د غوږ په دې ویده شپیلۍ کې
دا ستا د مینې پټ راز نه پسیږي
په دې سابندې او پردې هواکې
ستا د لونګو وږمې نه چلیږي
د زمانې له دې بوینې بوښتې
زمانښتی برخلیک نه ورهیږي !

هالینډ - فبروري ۱۹۹۹

دوییونو (لغاتو ) ژباړه
***************
د شړونتیا رنځ : رنج تبعید
شپیلۍ: سوراخ ګوش، نی، توله
بوښته : لجنزار، مرداب
برخلیک : سرنوشت
ورهیدل : رهیدن

## سوکمار

د زمانې په (رینګ ) کې
پرون د کفر په تور ،
سوکمار (رامبو )
په توغندیز سوکانو وځپلم
او دا دی نن مې ستهوي یو ځلې بیا
د اسلامي بنسټپالۍ په ګناه
چې په خپل لاس
لکه کوکنار

يې وه کړلي راته !

هالينډ - فبروري ۲۰۰۲

دوييونو (لغاتو ) ژباړه
***************
سوکمار : مشت زن
رينګ : ميدان مشت زنی
رامبو : قهرمان فلم های امريکايی وکنايه از پنتاګون است
ستهول : ريشه کن کردن، نيست ونابود کردن

## پروني اشنا ته

تا له پردی بدلې
خپله سندره ځار کړه
ماته له ليرمې چلند کرکه راغله
تا په پردي پرتوګ کې ځان وپوښه
ما د پرديو پر برم وياړ وغنده
تاته تر خپل
پردی کلتور ښه ايسي
خو ماته خپل
زما دآر و د پيژند نښه ده
تا خپل تور سر
د بور سرو همرنګ کړ
او زما خپل دا
له ځرمنې سره ښکلی ښکاري
ستا اننګي تر شونډو سره دميمو
او دا زما هم دمور مړو ماشومانو د غومبورو په رنګ
اشنا !

ته ، پوروړی نه يې
زه د پورونو بد پور
ته د پيسو د ښکارولو اتل
زه د ښکاري کيسه برانو بلهار
زما او ستا ترمنځ
سپين غر و دريد
ته پر ما
او زه به پر تا خاندم !

هالينډ - جون ۲۰۰۳

دو ييونو (لغاتو ) ژباړه
***************
ليړمی : چاپلوسی، تملق، چاپلوس، متملق
په پردي پرتوګ کې ځان پوښل : کنايه از فخر کردن به افتخار ديگران
آر : اصل
پيژندنښه : علامه، شناخت، هويت
ميمه : مردم قبايل پشتون به زن و دوشيزه ، اروپايي ميمه ګوی
بلهار : قرباني
بد پور : بد قرض
برم : شان و شوکت

## خوب

زما له تاندې ځوانۍ
تر اوسني زړښته
لو مړنی ځل وو دغه
چې ما د خپلې پخوانۍ مينې

له ګلابي شونډو نه
د خوږې مينې
يوه خولګۍ واخيسته ،
آه !
چې دا يو خوب وو هسې............
هغه زما نوخنديدلی ګل خو
تربويولو مخکې
هغه مهال وو لا زموللی خزان !

هالينډ - اکتوبر ۲۰۰۳

دوييونو (لغاتو ) ژباړه
***************
تاند: تازه، شاداب
خولګۍ: بوسه
نوخنديدلی: نوشګفته
زمولل: پژمردن

## شتمن او نيستمن جنايتکار

د سرو زرينو سکو نمنځونکی سماو
نيستمن
او بې زورو زر ګناهکار
پرسولۍ ځړوي
خو ، شتمن تباهکار
چې خپل بوږنوړی جرم
د سرو سپينو زرو
او ميراثي ښاخ وپرتم
تر شا پټوي،

پتمن او ښکومی بولي !

هالینډ - د سمبر ۲۰۰۴

دوییونو(لغاتو ) ژباړه

***************

نمنځونکی: عبادت کننده، پرستش ونیایش کننده

بوږنوړی: وحشت انگیز، وحشت آور

ښاخ وپرتم: شان وشوکت

ښکومی: خیرخواه، خیر اندیش

پتمن: آبرومند ، برومند ، باشرف

## د مینې میراث

دپسرلي له شنه بار خونه
دخزان سپیره خولګۍ وړم
د لونلي ګل له غاړې
ترمې ترمې غاړه کۍ وړم
دبرخلیک له شومو چارو
تتې وړانګې د سپوږمۍ وړم
د(وینوس ) د داد نیاوتون ته
تاند لبانه ناوکۍ وړم
او د مینې له میراث نه
پر سر ایرې لکه سپرغۍ وړم

کابل - ۱۳۴۲

دوییونو(لغاتو ) ژباړه

***************

خولګۍ: بوسه

وینوس: الاهه ء عشق وزیبایی روم باستان(زهره )

لونلی: افشانده
نیاوتون: دادگاه
تاندلبان: جوانیمرګ
ناوکی: عروسک، لعبت
بارخو: رخسار

## تلین

چې په مینه کې یې مینه راښوو له
نن پریاد یې تږمې اوښکې دروږوم
چې د سیند څپو په غېږ کې به رااوښته
نن خیالي انځور یې غېږ کې ویدوم
چې سپوږمۍ به پرې له هسک ګلپاڼې نوستې
نن تصویر یې په ډیوو کې بلیږدوم
چې پرمخ به یې وږموخپې وېړلې
نن ایرې یې په وږمو کې لیږدوم
تازه ګل مې منګنو سیلیو ومروړ
نن په تلین کې یې غمونه ژړوم

کابل – ۱۳۴۲

دوییونو (لغاتو) ژباړه
***************
نوستل: پاشیدن، افشاندن
بلیږدول: پیچاندن
ویړل: هموارکردن، ګسترانیدن
منګنی: خزانی، پاییزی، تیرماهی
دروږول: قرباني کردن
مروړل: پژمردن، تافتن

## د سهار باد

د سهار باده !
له سپينو څوکو،
راوچليږه !
په ځغل رادرومه !
مه ايساريږه
خبر يې راوړه !
راولوريږه !

داهم د ساپي صاحب يو تراژيک او غمجن شعر په انګريزۍ ژبه:

## Poet : Meftahudin safi

## Tulip

Spring is here again as a beautiful lass
With all its glory and charming grace
Tulips are bursting into smile
Worth of looking, beauty of soil
Folk here and there around
Their every cluster is bound
To go and join the feast of tulips
With heartfelt joy and cheerful lips
But I !!!
As the fading tulips of native my land
Bear no spring like a succession of seasons
************************************************
In the perpetual succession of seasons

In the battle of false and reasons
In the endless stream of time
In the harmony of eternal rhyme
Many years died away
As an elegy in musical play
And thus, I suffer a lamentable life
Burning nostalgia for children and wife
As a frozen smile on the lips of pain
Am a wondering soul and anxious brain
And I keep your memory in my tears
I mourn for you and for all my dears
************************************************
My country is but a burnt down garden
For the ashes of which no one begged a pardon
My home land demolished under the heels of cruelty
But the powers involved are sensing no guilty
My birth land is, but a land from which the tears escape
And seek a refuge into a mirage lap
They fall as a rain over dry desert
And soak the earth the earth in every pace and effort
My country is, but a land of torture
The scene carnage, the rule of butcher
My country is, but the victim of barbarity
It is our harsh and bitter reality
She crawls ahead as a wounded deer
And leaves the blood at her back and rear
************************************************
**په ډیر درنښت: انجنیر عبدالقادر مسعود**